ډاکتر محمدآجان مرزی

۲۰۱۸/۰۹/۲۴

# د ژړا خونه

دا خونه د ژړا پکې غمونه دي دردونه
ریبار نشته د مینې په سره اور کې سوي زړونه

قطرې د اوښکو ځاځي د یتیم له مړاوو سترګو
زاهد روان کعبې ته د جنت ګوري خوبونه

دعوی د کرامت کړي د کرم نښې دي ورکې
جامه د تظاهر کې د ریا جوړ دي بزمونه

ارمان او حسرت ګورم په سینه کې د بېوزلو
خولې وچې پښې تښاکې ځنکدن کې قسمتونه

د بخت کاتب عاصي شو امتحان له ژونده اخلي
ایوب ورته مخلوق شو په هر کور ویشي دردونه

آواز له زړه راووت په افلاکو کې راواوښت
تالندی شو توپان شو بیا د نوح شول سیلابونه

مانۍ د رحم ړنګه د جابر کلا اوچته
شهباز نشته آسمان کې د ټپوس جوړ دي بزمونه

کچکول د درویش مات شو کډې بار شوې د یارانو
بېرنګه کوڅې ښکارې د غم شپې دي فریادونه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ